AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

ليکوال : پوهنوال رسول باوري ۲۰۰۸/۰۱/۱۳م

# د ډيورنډ کرښي له منځه وړل
# د سل کلن تيري پای ته رسېدل دي

په پاکستان کي د بينظير بهتود ترور او وژلو سره سم د هغه هېواد په سياسي او ټولنيز چاپير يال کي ناکرارۍ او لړزانده حالات د سيمي او نړۍ پام ځان ته واړاوه. د افغانستان لوړپوړو چارواکو دا تروريستي عمل وغانده او بينظيره يې د ا سلامي نړۍ يوه باتوره ښځه ياده کړل. د بينظربهتو د مړيني څخه پاکستان ، افغانستان ، سيمه اونړۍ هر يو په خپل وار د ګټي اخستلو لاري چاري پالي، د پاکستان واکمنو سمدلاسه دا عمل په پښتني طالبانو پوري وتاړه ، افغانستان او يو شمير نورو دا کار د القاعدې کړه وړه وګڼل او د زياتو نړيوالو له لوري دا عمل د شک او ترديد په حالت کي ساتل شويدئ ، چي د هر لوري دا دريځونه په خپله د دې پيښي په اړه د هغو د ګټي اخستلو لورۍ ځرګندوي.

د بينظير بهتو مړينه د سيمي په اړه د نړيوالو پيښو يوه کړۍ ده . نړيوال پوځي ځواکونه له يوې خوا او د اسلامي بنسټ پالو پوځي جنګيالي له بلي خوا دا سيمه د جګړې ډګر ګرځولې ده ، په سيمه کي فعال سياستوال اړ دي چي يا له نړيوالو ځواکونو سره پرځنګ ودريږي او يا د اسلامي بنسټ پالو پلوي وکړي . خو د پيښو بهير داښئي چي سيمه ايز سياستوال هغه توان نه لري چي په خپلواکه توګه د خپلو ملي ګټو لپاره کلک دريځ خپل کړي ، تر ټولو ښه يې هغه دي چي زيار باسي څو د خپلو ملي ګټوپر هغو اړخونو زيات پام وکړي چي په سيمه کي د دې دواړو جګړه مارو لور څخه د يوه جګړه مار لوري د ګټو سره سمون ولري . د دې ټکي يادونه په کار ده چي په سيمه کي د اسلامي بنسټ پالو جنګيالو ملاتړ يوازي د اسلامي موخو پالونکو له لوري نه کيږي ، بلکي د هغو ځواکونو ملاتړ هم ورسره شته چي په سيمه کي د ناټو او امريکا د برترۍ او واکمنۍ خلاف دي.

په اوسني واکمن ، سيمه ايز او نړېوال چاپيريال کي يوازي يو ځواکمن افغانستان کولای شي چي د خپل ژوند پايښت تضمين کړي . دې موخي ته د رسېدلو لومړنۍ شرط د دې هېواد يو والی او بشپړتيا ده . په اوسنيوشرايطو کي د افغان کارپوهانو ، سياستوالو ، او اولسونو ګډه دنده ده چي د خپلو ملي ګټو د ساتني لپاره د هغو پاليسيو ملاتړ وکړي او يا خپله داسي کړنلاري پلي کړي چي هم د جګړې اور له خپلي لمني ليري او هم خپلو سترو ملي ګټو ته ځانونه ورسوي . د ملي ګټو د تامين يوه بنسټيزه چاره د ډيورنډ کرښي ته د پای ټکی اينودل دي . په دې ډول به هم زموږدهېوادبشپړ تيا تامين شي او هم به په سيمه کي د يوه ځواکمن هېواد په توګه د خپل ژوند پايښت تضمين وکړي.

په دې ټکي پوهېدل په کار دي چي په روانه جګړه کي د څلورو خواو ، په پوهېدلي او يا ناپوهېدلي ډول د ګټو تلفيق ته لاره برابره شوېده . نړيوالوته په سيمه کي د پاته کېدلو لپاره د جګړې دوام د خپلو اوږدو مودو ګټو د تامين او ر سېدلو مناسب چانس دی . پاکستان په سيمه کي تر ځان د لوړ ځواک خاوند افغانستان نه غواړي ، ځکه يې پر پښتنو سيمو د جګړې اور بل ساتلی چي دا ستر ملت د يوځای کېدلو توان پيدا نه کړي . په افغانستان کي يو شمير افغان دښمنه کړۍ شته چي د جګړې په دوام کي خپلي ناروا ګټي ويني او څلورمه خوا هم په سيمه کي د بهرنيو بيلا بيلو کړيو ( اسلامي او غير اسلامي ) اجيران او د نورو هېوادونو د ګټو د تامين لپاره استخدام شوي ډلي او يو شمير تيروتلي هېوادوال دي چي د جګړې په لمبو کي داسيمه ساتل غواړي ، او دې کړو وړو ته به تر هغه دوام ورکړي چي سيمي ته د راغلو نړيوالو ځواکونو د سرخوړۍ کچه لوړه او يا د بشپړي ماتي تر بريده ورسيږي . اوس چي د پاکستان کورنۍ ناکرارۍ د هغه هېواد د ناوړه سياستونو له امله ورځ تر بلي زياتيږي ، په کار ده چي افغاني سياستوال او کار پوهانو د هغو پښتنو واوبلوڅو مخکښو سياستوالو مرستندوی شي چي د خپل هويت او تاريخ ګټولو لپاره ژمن دي . پښتنو او بلوڅو مخکښو سياستوالو ته په کار ده چي خپل ټول توان د خپلو سيمو د سمون لپاره وکاروي ، د دې پر ځای چي د سند او پنجاب پر پيښو سترګي سرې او واويلا وکړي دا به ډيره ښه وي چي دخپلو اړوندو سيمو څخه دا روانه جګړه ليري او يا بيخي ورکه کړي .

دملي او تاريخي ستونزو حل په ډار او ځان غولولو نه شي کېدلای . هغو چي د اولس د رايو او نظريو پرته خپل ځان او خپل اند د اولس استازی ګڼلی خامخا په داسي کنده کي لويدلي چي په خپل ژونديې د ځان دفاع او خپلي نظرې د سپيناوي وخت نه دی موندلی او تر مړيني وروسته يې د تل لپاره تاريخي ملامتيا ګټلې ده . د دې ډلي کسانو څخه يوه بيلګه عبدالرحمن خان دی . د دې سره – سره چي په خپلو ليکنو کي يې خپل راتلونکې نسلونه هڅولي چي د ډيورنډ هاخوا سيمي بيرته د خپل هېواد سره يوځای کړي ، خو هغه تاريخي مسوليت لا تر اوسه هم د هغه پر


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

تیروتني سیورئ غوړولې ، چي د خپل اولس د مشورې او رايې غوښتلو پرته يې د ډیورنډ سره پر تر تیب شوي تړون هو وکړل.

په دې لیکنه کي زما موخه د ډیورنډ د تړون تاریخي پیښوته کتنه او یا د پاکستان د روانو حالاتو اروزونه او څیړنه نه ده ، یوازي غواړم د هغو اندیښنو او خرخښو په اړه څه ولیکم چي د یو شمیر لیکوالوپه لیکنو کي کله ناکله را څرګندیږي . زه په دې باور یم چي هیواد د یوه یا څو کسانو ملکیت نه دئ ، اومسئلې يې هم د یوه یا څو کسانو داندونو او نظریو پر بنسټ نه شي حل کېدلای . هېوادنئ مسئلې اولسي پریکړو ته اړتیا لري . په همدې تړاو زما همدا اوسنئ او تر دې وړاندي ټولي اړوندي لیکني پر همدې بنسټ ولاړ دي . (( افغان اولس هیڅ کله د ډیورنډ کرښه نه ده منلې. (( زه د هغو اندونو ملاتړ نه کوم چي افغان اولس او یا چارواکو ته د ډیورنډ دکرښي د منلو تبلیغات او پروپاګندې کوي . او زما دا دریځ د یو شمیر لیکوالو په اصطلاح )) د احساساتو پر خره سورلي نه ده )) بلکي د هېواد ملي ګټودفاع هر هیوادوال دې ته اړباسي چي د ډیورنډ کرښي د منلوملاتړ وه نه کړي .

د دې تر څنګ د ویلو لپاره څو نور ټکي :

لومړئ : د دې خبري یادول اړین ګڼم چي د اولس اراده تر هرڅه څواکمنه ده ، دا اراده نه اټمبم ماتولای شي او نه د پوځونو د شمیر زیاتوالئ ، هغه وروڼه چي د پاکستان د اټمبم او زیات شمیر ملیشو او پوځونو ډاریږي او له ډاره يې د خپلو رواحقونو څخه د لاس پر سر کیدو تبلیغات پیل کړي ، باید تاریخ ته پام وکړي . تاریخي پیښو ښودلې چي د تیري کونکو او یرغلګرو په وړاندي د مبارزې ورستئ برئ د برحقه هوډمن اولس په برخه شوئ ، متعرضینو ، یرغلګرو او غاصبینو د لنډمهال بري وړئ دئ خو وروسته يې بشپړه ناکامي په برخه شوېده چي ځان ته يې شرم ګټلئ او هویت يې بایللئ دئ.

دوهم : اوسنیو نړیوالو شرایطوته په پام سره ، پاکستان په دې دریځ کي نه دئ چي یا اټمبم وکاروي او یا خپلو مسلحو ځواکونو ته د افغانستان سره د جګړې قومانده صادره کړي . اوسني نړیوالو شرایطو له یوې خواپاکستان د خپل پېدایښت او پایښت د بنسټیزو ارونو خلاف موقف ته برابر کړئ او له بلي خوا د خپلو پخوانیو ساتونکو بنسټ پالو دښمنئ ته درول شوئ دئ . په داسي حالاتو کي هغه اندیښنې د منلو نه دي چي ګویا افغانستان د خپل زورور ګاونډي سره د خپلو حقونو د غوښتلو جوګه نه دئ.

دریم : په افغانستان کي اوسنئ روانه جګړه یوازي د ډیورنډ د کرښي له امله نه ده ، بلکي زیات نور لامیلونه شته چي زموږ په هېواد کي يې د جګړې اور تود ساتلئ دئ ،بیلګه يې په هیواد کي په فساد ککړو ، بې کفایتو ، اود مخدره موادو دقاچقبرانو څخه جوړې شوي ادارې واکمني یادولای شو . چي د یو شمیر کار پوهانو په پام په دې اداره کي سمون د یو زیات شمیر ناخوالو سمون ته لاره برابره ولای شي.

په لنډه توګه غواړم ستاسو پام هغو شونتیاو ته را وګرځوم چي د ډیورنډ کرښي د ماتولو او له مینځه وړلو لپاره برابر شویدي.

دا خبره خورا ښه د پوهېدلو ده چي افغانستان دومره واک او ځواک نه لري چي د دې ناولي کرښي د له منځه وړلو لپاره په یوازي سر ډغري وو هي ، د دې لپاره په کار ده چي پر څو اړخیزه یوالي او د بیلا بیلو شونتیا په یوځای کارولو دا ستونزه د غوڅېدلو پر لور وخوځوو . کېدای شي هغه شونتیاوي د دې ستونزي د حل لپاره اغیزمني وي چي همدا اوس په سیمه او نړئ کي برابر شویدي . د بیلګي په توګه . په سیمه کي د ځواکونو انډول په ټولیزه توګه د افغانستان په ګټه دئ ، د دې ګټور انډول زیاتوالئ په باالقوه توګه شته خو یوازي د یوه هر اړخیزه ملي تدبیر اړتیا شته چي دا باا لقوه ځواک د هېواد د ملي ګټو لپاره په باالفعل ځواک واړوي ؛ په افغانستان کي د تروریزم سره د مبارزې لپاره د ۳۷ هېوادونو نظامي ځواکونو شتون د افغانستان لپاره د نظامي او سیاسي پلوه د نړئ د ملاتړ په مانا دئ ؛ په پاکستان کي د نړیوالو شرایطو تر زور او فشار لاندي د زړو ستراتیژیو بدلون په واقعیت کي د هغو ارونو څخه اوښتون دئ ، چي د پاکستان د پیدایښت انګیزې او لامیلونه شمیرل کېدل ؛ په سیمه کي د پخوانیو اشغالګرانو زوړ ) نفاق واچوه او واکمني وکړه ) سیاست ، د افشا کېدلو او ناکاره توب پیل ، چي د ډیورنډ کرښه د هغوئ د زاړه سیاست زیږنده ده ؛ او په دې ډول یو شمیر نوري شونتیاوي شته چي د ډیورنډ د کرښي د بدلون چانس يې زیات کړیدئ.

د دې ټکي یادول اړین ګڼم چي دا تاریخي ستونزه دزیات دقت او روښاني کړنلارې د لرلو په صورت کي حل کېدلای شي . اوس لازمه ده چي د ډیورنډ کرښي د له منځه وړلو لپاره د پښتنو او بلوڅو اولسونو او روڼ اندو سیاستوالو ترمنځ د د دې ستونزي د له منځه وړلو لپاره اغیزمني موخي څرګندي او د ګډ کار لارې په ګوته شي . که د دې وړ فر صت څخه زیاته ګټه وا نه خستل شي ، تاریخي ملامتي به د اوسني نسل او په ځانګړې توګه د اوسني سیاسیتوالو، روڼ اندو او د افغانستان ملي ګټو ته د هوډمنو شخصیتونو پر غاړه وي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

او د لیکني په ورستۍ برخه کي د جاپاني فیلسوف ( یوري تو موتاشي ) د اثر (( همت )) دا کرښي رانقلوم چي لیکلي یې دي : (( د هدف څخه اوښتل و هدف ته د رسېدلو په مانا نه دئ (( که څوک د پرمخ تللي اوځواکمن افغانستان هیله لري ، باید د دې هېواد بشپړتیا ته هوډمن پاته شي ، چي دا هوډدملي ګټود ساتلو او پاللو ربشتنی دریځ دئ.

په درنښت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de